بسم الله الرحمن الرحيم

# د وطن ګوند د سراسري شورا
# د شپږم نوبتي اجلاس
## مصوبه

**نیټه : ۱۳۹٦/۱/۱۸**

زموږ د ګوند سراسري شورا شپږم نوبتي اجلاس په داسي حال کښي جوړیږي چه هیوادوال مو د تل په څیرپه پرلپسي ډول د اوپراتیفي ویجاړونکي اور په شعلو کښي شپي ورځي سبا کوي. د همدي ویجاړونکي بهیر پر وړاندي مقابله ، یواځي او یواځي زموږ د ټول ولس، په تیره بیا د هملورو، همفکرو او همګټو ځواکونو یووالي او ګډي هڅي ایجابوي.

ترکومه ځایه چه پر موږ د وطن ګوند پوري اړه پیدا کوي ، موږ په خپل وارسره د ګډوهلو او ځلو د تمرکز مسله د وطن ګوند د سراسري شورا په پنځم نوبتي اجلاس کښي څیرلي او په دي هکله موخپلي دندي د ټولو نورو ګوندي دندو په سرکښي راوستلي دي.

لومړي مو د نورو ملي او دموکراتو ځواکونو سره د همکاري د شورا په چوکاټ کښي د ګډکاري میکانیزم جزئیات تنبه کړي او له همدي لیاري موله نورو څلورو سیاسي ګوندنو ، (۲۱) قومي جوړښتونو او له (۳۰) زیاتو پخوانیو ګوندي منفردو شخصیوتنو او کادرونو سره د نوموړي میکانیزم داهدافو په پلي کولو کښي ګډکار پرمخ وړو.

په دوهمه قدمه کښي مو د همدي شورا په وجود کښي دیوه لوي حرکت دجارو د سمبالښت په بهیر کښې په ګده له (۴۲) څخه زیاتو نورو سیاسي ګوندونو او له (۶۰۰) څخه زیاتو ټولنیزو قومي جوړښتونو او مدني ټولنو سره یوځاي د افغانستان د ژغورني د ملي خوځښت ترنامه لاندي د عمل برنامه جوړه اوله همدي لیاري مو دا همو ملي دندو په سرته رسول کښي خپل ملي دین ادا کوو.

موږ په عین حال کښي د ګوند د پنځم نوبتي اجلاس د پریکړو له مخي د تیریوه کال په اوږدو کښي له (۲۳) سیاسي هملورو ګوندونو، جوړښتونو او بنسټونو او له (۶۰) څخه زیاتو سیاسي وتلو ګوندي څیرو او ګوندي پخوانیو کادرونو سره لیده کاته تر سره کړي او دوي ته مو د یووالي وړاندیز کړي، دیوه دارنه یووالي وړاندیز چه د هغي له مخي اړینه ده څو زموږ د سیاسي تولي کورنۍ د اړونده هملوروجوړښتونو او بنسټونو ترمینځ یووالي را مینځ ته شي.

همدي موخي ته د رسیدوپه هیله موږ (د وطن ګوند ) په ریشتینولي سره خپل مخکیني مجدد سیاسي- تشکیلاتي یووالي د مناسبي لیاري په موندنه کښي د رغونکي وړاندیز د نوښت طرحه وړاندي کړه چه دهغي له مخي ټولوته په ګډه د وطن ګوندپه فوق العاده عمومي مجمع کښي د بي توپیره مساوي ګډون بلنه ورکړشوي ده. دا وړاندیز په دي وجه شوي، چه هغه عملي او اجراوي ګڼو . د وحدت په موخه بله هره لیاره که په پام کښي نیوله کیږي هغه به له ستونزو ډکه، اوږده او پیچلي وي. زموږ د اسرار او تاکید وجه یواځي او په همدي مطلب کښي خلاصه کیږي. نوموړي وراندیز د یوه داسي ګوند د عمومي فوق العاده مجمع دجوړوني طرحه جوړوي چه هغه د لسګونو روڼ اندو هیوادپالو د زړه په وینو رامنځ ته شوي او د لسګونو زرو هیواد پالو سربښندونکو د سرپه وینو ساتل شوي دي . زموږ ګوند موږ ته په ډیره لوړه بیه تمام شوي ، د هغه دارزښتونو څخه پالنه زموږ د هیواد پالودندوپه ډله کښي راځي.

له نیکه مرغه چه اوس دوطن ګوند د همدي هیوادپال او سوله خوښونکي هوډپه ځواب کښي، یوشمیر سیاسي هملورو بنسټونو، د ځوانانو روڼ اندو بهیرونو او د معلولینو خیراندیشو کړیو له ګوند سره د بشپړیووالي او تشکیلاتي ادغام چمتووالي په ډاګه کړي، چه حاضر اجلاس د هغوي د همدي هیواد پال جسارت بشپړ درناوي کوي.

د وطن ګوند د سراسري شورا د شپږم نوبتي اجلاس ګډونکونکي پورتنیووینوته په کتو سره تصویبوي:

۱- د وطن ګوند دسراسري شورا د اجراییه هئیت رپوټ جه د ګوند د رئیس محترم میر افغان باوري له لوري وراندي شو، تائید دي .(رپوټ ضمیمه دي)

۲- د وطن ګوند د عمومي فوق العاده مجمع په بهیر پوري اړوندطرزالعمل چه د وحدت د پروسي د ټولو تشکلاتو له لوري تایید کړشوي دي ، منظور دي (طرزالعمل ضمیمه دي )

۳- ټولي مرکزي ګوندي څانګي او د (هیواد په د ننه او بهر کښي) ګوندي جوړښتونه د ګوند دراتلونکي سرنوشت او دهغه د اوږد مهاله اولنډمهاله سیاست په اړه ، خپل وړاندیزونه د مجمع د تدارک او تدویر کمیسیون په واك کښي ورکري.

۴- کمیسیون دنده لري څو د نوښتګر ګوندي فکري خط ، دکاري ګروپ له لیاري د ګوند په مرامنامه او اساسنامه کښي د شرایطو او ارتیاوو سره متناسبو اړینو بدلونونو په باب دوړاندایزونو ټولیزه جوړه او د وطن ګوند پراخ اجلاس ته ئي د څیرني په موخه وړاندي کړي.

۵- د وطن ګوند شپږم نوبتي اجلاس د هیواد د اوسنیو شرایطو پیچلتیاته په پام سره د ګوند په اساسنامه کښي د الاندیني تعدیلات تصویبوي:

الف : د اساسنامي د دوهم فصل په شپږمه ماده کښې د ګوند د سراسري شورا د عادي اجلاس د جوړوني د زماني واټن تعديل له شپږو مياشتو څخه، يوه کال ته.
ب- د اساسنامي د دوهم فصل په اوومه ماده کښې د ګوند د سراسري شورا د اجرائيه هئيت د عادي غونډو د جوړولو د زماني واټن تعديل له دريو مياشتو څخه، شپږو مياشتوته.
ج- د اساسنامي د دوهم فصل په اتمه ماده کښې د ګوند د سراسري شورا د اجراييه هئيت د رياست دعادي غونډو د جوړولو د زماني واټن تعديل له يوي مياشتي څخه ، دوه مياشتو ته.
۶- د شپږم نوبتي اجلاس ګډون کونکي ، د وطن ګوند د اجرائيه هئيت د پخواني غړي محترم جلالتماب سترجنرال محمد رفيع اريايي څخه د وطن ګوند د عمومي فوق العاده مجمع د بهير د ملاتړ په وجه د منني په څرګندوني سره په درنښت غوښته کوي څود افتخاري رئيس په توګه د دوي د انتخاب په باب د اجلاس وړانديز ته د مثبت ځواب په ويلو سره د ګوندیانو خوښي خپله کړي.
۷- د وطن ګوند سراسري شوراته د (۱۷) تنو ګوندي کادرونو لوړول او د سراسري شورا له ترکیب څخه د (۳) تنو د هغو د غړو حذفول او همدارنګه د وطن ګوند د سراسري شورا اجرائيه هئيت ته د (۵) تنو د وطن ګوند د سراسري شورا د غړو لوړول او د هغي له ترکیب څخه د (۱) تن د هغو دغړو انفصال، د ګوند د تشکيلاتو د ځانګي دوړاندیر له مخي تصویب دي.
۸- د وطن ګوند د شپږم اجلاس ګډونکونکي د لندن د ملګرو څخه د دوي د اعاني د ورکړي په وجه مننه کوي. د هيواد په د ننه او بهر کښې ټولونورو ګوندي جوړ ښتونو ته سپارښتنه کوي، څو د ګوند د مالي بنسټ ، د پياوړتيا په موخه د راټلونکو دوو مياشتو په اوږ دوکښې د اعاني د راټولوني بهير د ټاکلي فورمي له مخي ترلاس لاندي ونيسي، څود ګوندي اړینومالي لګښتونو ، ستونزي ته د پاي ټکي کيښودل شي.
۹- د وطـــن ګوند د سراسري شورا د اجرائيه هئيت رياســـت ته د همـــــدي مصوبي د تطبـــــيق دنـــده وردي غاړي کيږي.

و من الله التوفيق

میرافغان – باوري
د وطن ګوند د سراسري شورا رئيس